د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو
د تألیف لوی ریاست

# حسن خط

## څلورم ټولگی




د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ ش

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري،
اخيستنه او خرڅونه يې په کلکه منع ده.
له سر غړونکو سره قانوني چلن کيږي.

moe.curriculum@gmail.com



# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
کور د سولې کور د تورې
دا وطن د ټولو کور دی
د پښتون او هزاره وو
ورسره عرب، گوجر دي
براهوي دي، قزلباش دي
دا هیواد به تل ځلیږي
په سینه کې د آسیا به
نوم د حق مو دی رهبر

دا عزت د هر افغان دی
هر بچی یې قهرمان دی
د بلوڅو د ازبکو
د ترکمنو د تاجکو
پامیریان، نورستانیان
هم ایماق، هم پشه یان
لکه لمر پر شنه آسمان
لکه زړه وي جاویدان
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحيم

**د پوهنې وزارت**

د تعليمي نصاب د پراختيا او د ښوونکو د
روزنې معنيت

د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د
تاليف رياست

# حسن خط

## څلورم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ.ش.

## مؤلفان

- محمد ظاهر طاهري
- عبدالجلیل آخندزاده
- سید انور میچنخیل

## د بیا کتنې کمېټه

- سید انور میچنخیل
- معاون سر مؤلف محمد غالب (الله یار) آمر دیپارتمنت آرت و هنر

## علمي او مسلکي اډیټور

- عبدالجبار د هنرو او صنایع د انستتیوت استاد

## د ژبې ایډیټ او ژباړه

- محمد قدوس زکوخیل

## دیني، سیاسي او فرهنګي کمیټه

- حبیب الله راحل د تعلیمي نصاب د پراختیا په لوی ریاست کې، د پوهنې وزارت سلاکار
- مؤلف مولوي عبدالوکیل

## د څارنې کمېټه

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معین.
- دکتور شېرعلي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.
- دکتور محمد یوسف نیازي د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست سرپرست

## طرح او ډیزاین

- محمد اشرف امین
- احمد فرهاد نوری

**د چاپ د سمون چارې**: محمد کبیر حقمل د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو رئیس

# بسم الله الرحمن الرحیم
# د پوهنې د وزیر پیغام

د لوی خدای ډېر شکر دی چې انسان یې په احسن تقویم پیدا او هغه ته یې د خبرو کولو توان ورکړ او د علم او فکر پر ګاڼه یې سمبال کړ. ډېر درود دې وي د اسلام پر ګران پیغمبر حضرت محمد مصطفی ﷺ چې د انسانیت ستر ښوونکی او د رحمت، لارښوونې او روښنایي پیغام راوړونکی دی.

ښوونه او روزنه په هره ټولنه کې د بدلون او پراختیا بنسټ دی. د ښوونې او روزنې اصلي موخه د انسان د بالقوه ځواکونو فعالول او د هغه د پټو استعدادونو غوړول دي.

درسي کتاب د ښوونې او روزنې په بهیر کې یو مهم رکن بلل کیږي چې له نوو علمي بدلونونو او پرمختګونو سره اوږه په اوږه د ټولنې له اړتیاوو سره سم تالیف کیږي. درسي کتابونه باید د منځپانګې له مخې خورا بډای وي چې وکړای شي د علومو له نوو لاسته راوړنو سره مل، دیني او اخلاقي زده کړې د نوو میتودونو له لارې زده کوونکو ته ولیږدوي.

دغه کتاب چې اوس ستاسو په واک کې دی، د همدغو پورته ځانګړنو پر بنسټ چمتو او تالیف شوی دی. د پوهنې وزارت تل زیار باسي چې په هیواد کې تعلیمي نصاب او درسي کتابونه د اسلامي ښوونې او روزنې او د ملي هویت د ساتلو پر بنسټ جوړ او له علمي معیارونو، نوو روزنیزو میتودونو او د نړۍ له علمي پرمختګونو سره سم چمتو کړي. د زده کوونکو استعدادونه په ټولو اخلاقي او علمي خواوو کې وغوړوي او په هغوی کې د تفکر او نوښت توان او د پلټنې حس پیاوړی کړي. د خبرو اترو او پیرزوینې د فرهنګ دودول، د هیواد پالنې او د مینې او محبت د حس پیاوړی کول، ښښنه او پیوستون د پوهنې د وزارت نورې غوښتنې دي چې ښایي د لوست په کتابونو کې ورته پام وشي.

درسي کتابونه د ښه او مسلکي ښوونکي له درلودو پرته نشي کولای ټاکل شوې موخې ترلاسه کړي. ښوونکی د ښوونې او روزنې یو مهم جزء او د ښوونې او روزنې د پروګرامونو پلي کوونکی دی. د هیواد له ژمنو او زړه سواندو ښوونکو څخه، چې د تورتم او ناپوهۍ په وړاندې یې جګړه خپله دنده ګرځولې، دوستانه هیله لرم چې د تعلیمي نصاب په دقیق او مخلصانه تطبیق کې د هیواد ماشومان، نجونې او تنکي ځوانان د پوهې، اخلاقو او معنویت لوړو څوکو ته ورسوي.

د هیواد د زده کړې د نظام برۍ د خلکو له جدي مرستو پرته امکان نه لري. له دې امله له ټولو قشرونو او د ملت له شریفو خلکو، په تیره بیا له کورنیو او د زده کوونکو له درنو اولیاوو څخه هیله لرم چې د معارف د موخو د لاسته راوړو په برخه کې له هیڅ ډول مرستې څخه ډډه ونه کړي. دغه راز له ټولو لیکوالو، پوهانو، د ښوونې او روزنې له ماهرینو او د زده کوونکو له محترمو اولیاوو څخه هیله کیږي چې په خپلو رغنده نظرونو، وړاندیزونو او نیوکو د درسي کتابونو په لاښه والي کې د پوهنې له وزارت سره مرسته وکړي.

لازمه بولم له ټولو ښاغلو مؤلفانو، د پوهنې وزارت له اداري او فني کارکوونکو او له ملي او نړیوالو بنسټونو څخه، چې د دغه کتاب په چمتو کولو، چاپولو او ویش کې یې زیار ایستلی او مرسته یې کړې، مننه وکړم.

په پای کې له لوی خدای ﷻ څخه غواړم چې په خپله بې پایه مهربانۍ له موږ سره د پوهنې د سپیڅلو ارمانونو په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي. انه سمیع قریب مجیب.

د پوهنې وزیر

دوکتور اسدالله حنیف بلخي

# فهرست


| د لوست شمېر | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| | **لومړی څپرکی: د نستعلیق خط د مفرداتو د خطاطی بڼه** | |
| ۱ | د(آ، ا) توری | ۱ |
| ۲ | د (ب) توری | ۲ |
| ۳ | د (ج) توری | ۳ |
| ٤ | د (د) توری | ٤ |
| ۵ | د (ر) توری | ۵ |
| ٦ | د (س و ص) توري | ٦ |
| ۷ | د (ط) توری | ۷ |
| ۸ | د (ع) توری | ۸ |
| ۹ | د (ف) توری | ۹ |
| ۱۰ | د (ق) توری | ۱۰ |
| ۱۱ | د (ک) توری | ۱۱ |
| ۱۲ | د (ل) توری | ۱۲ |
| ۱۳ | د (م) توری | ۱۳ |
| ۱٤ | د (ن) توری | ۱٤ |
| ۱۵ | د (و) توری | ۱۵ |
| ۱٦ | د (ه) توری | ۱٦ |
| ۱۷ | د (ی) توری | ۱۷ |
| | **دویم څپرکی: د نستعلیق خط پر قاعده د څو توریزو کلمو د خطاطي بڼه** | |
| ۱۸ | آدم | ۱۸ |
| ۱۹ | ادب | ۱۹ |
| ۲۰ | بڼ | ۲۰ |
| ۲۱ | جاج | ۲۱ |
| ۲۲ | درمل | ۲۲ |
| ۲۳ | رښتیا | ۲۳ |
| ۲٤ | ستوری | ۲٤ |
| ۲۵ | صلح | ۲۵ |
| ۲٦ | طاووس | ۲٦ |
| ۲۷ | عالم | ۲۷ |
| ۲۸ | فصل | ۲۸ |
| ۲۹ | قانون | ۲۹ |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۰ | کتاب | ۳۰ |
| ۳۱ | لمن | ۳۱ |
| ۳۲ | مور | ۳۲ |
| ۳۳ | نارنج | ۳۳ |
| ۳٤ | واده | ۳٤ |
| ۳۵ | هنر | ۳۵ |
| ۳٦ | یاسمن | ۳٦ |


**دریم څپرکی: پر نستعلیق خط د لنډو جملو خطاطي**


| | | |
|---|---|---|
| ۳۷ | آدم | ۳۷ |
| ۳۸ | ادب | ۳۸ |
| ۳۹ | بڼ | ۳۹ |
| ٤۰ | جاج | ٤۰ |
| ٤۱ | درمل | ٤۱ |
| ٤۲ | رښتیا | ٤۲ |
| ٤۳ | ستوری | ٤۳ |
| ٤٤ | صلح | ٤٤ |
| ٤۵ | طاووس | ٤۵ |
| ٤٦ | عالم | ٤٦ |
| ٤۷ | فصل | ٤۷ |
| ٤۸ | قانون | ٤۸ |
| ٤۹ | کتاب | ٤۹ |
| ۵۰ | لمن | ۵۰ |
| ۵۱ | مور | ۵۱ |
| ۵۲ | نارنج | ۵۲ |
| ۵۳ | واده | ۵۳ |
| ۵٤ | هنر | ۵٤ |
| ۵۵ | یاسمن | ۵۵ |


**دویمه برخه**


| | | |
|---|---|---|
| ۵٦ | د حسن خط تدریس لارښوود | ۵٦-٦۷ |


**یادونه:** د هغو استاذانو لپاره چې د حسن خط د مضمون د تدریس دنده په غاړه لري، خط د پیژندلو، اقسامو او د ښایسته لیکلو لپاره د وسایلو او لوازمو د پیژندلو په اړه څو ضروري ټکي د کتاب په پای ځای کې ځای شوي دي. هیله ده ښاغلي ښوونکي د تدریس پر محال ترې لازمه ګټه واخلي.

# لومړی څپرکی

## د نستعلیق خط د مفرداتو د خطاطۍ بڼه

**لومړی لوست**


### د (آ) توری

**موخه:** د کرسي خط له پاسه د نستعلیق خط قاعدې ته په پاملرنې سره د (آ) له توري سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د کومو تورو پر سر د مد توری لیکل کیږي؟

آیا ویلای شئ چې د (الف) په توري کې د کړکي د قلم څو حرکتونه شتون لري؟





**فعالیت**

د مشق په کتابچو کې د (آ) توری څو وارې په کړکي قلم ولیکئ.

**کورنۍ دنده**

پخپلو کتابچو کې په کړکي قلم څو وارې د الف او مد توري خطاطي کړئ.

## دویم لوست


# د (ب) توری

**موخه:** په نستعلیق خط د کرسي خط پر مخ د (ب) توري له خطاطي کولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د (ب) توری د کږکي قلم په څو حرکتونو کې خطاطي کیږي؟

څه فکر کوئ چې د (ب) توری پر څو طریقو خطاطي کیږي؟



**فعالیت**

په خپلو کتابچو کې د کرسي خط پر مخ پورتنی تمرین څو واري پر کږکي قلم خطاطي کړئ.

**کورنۍ دنده**

په خپلو کتابچو کې د کرسي خط له پاسه د (ب) توری پر پنسل تمرین کړئ.

## دریم لوست


# د (ج) توری

**موخه:** د کرسي خط له پاسه د هغه حرکتونو په پام کې نیولو سره په نستعلیق خط د (ج) توري له خطاطي سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**

کله مو د (ج) توری خطاطي کړی دی؟

ستاسو په نظر د (ج) توري په خطاطی کولو کې څو حرکتونه شتون لري؟




**فعالیت**

په خپلو ډلو کې د (ج) توري د لیکلو د حرکتونو په اړوند خبرې وکړئ، وروسته یې د کرسي خط له پاسه پر کړکي قلم تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

د (ج) توری په قلم او یا پنسل سره په کتابچو کې څو وارې تمرین کړئ.


**ځلورم لوست**


# د (د) توری

**موخه:** د کړکي د قلم په واسطه د کرسي خط پر مخ پر نستعلیق خط د (د) توري د خطاطي له بنې سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنه**

کله مو د (د) توری د هغه له حرکتونو سره پر نستعلیق خط خطاطي کړی دی؟



**فعالیت**

پورتنی مشق د ښوونکي په مرسته پر کړکي قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

د (د) توری پر پنسل او یا خودکار قلم سره څو واري په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

## پنځم لوست


# د (ر) توری


**موخه:** د کرسي خط پر مخ د نستعلیق خط له قاعدې سره سم د (ر) توري د خطاطۍ له بنې سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**

کله مو د (ر) توری پر قلم او نستعلیق خط خطاطي کړی دی؟

ستاسو په نظر د (ر) توري په خطاطۍ کې څو حرکتونه شتون لري؟





**فعالیت**

د (ر) توري د لیکلو په وخت کې د کړکي قلم د حرکت په اړوند، بحث وکړئ، وروسته یې څو واري په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنی مشق پر پنسل او یا خود کارقلم تمرین کړئ، په بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

## شپږم لوست


# د (س او ص) توري


**موخه:** زده کوونکي به د (س او ص) تورو د ليکلو په وخت د قلم د حرکتونه په دندانه لرونکي او کش بڼه او همدا رنګه به د (ص) توري حرکتونه د کرسي له پاسه پر نستعليق خط وپيژني.


**پوښتني**

آيا کله مو د (س، ښ او ص) توري پر دندانو سربيره په کومه بله طريقه خطاطي کړي دي؟

په لاندې مشق کې څه وينئ ووايئ چې په ليکلو کې يې څو حرکتونه شتون لري؟



**فعاليت**

د دندانه دار او کش دار (س، ښ او ص) تورو په اړه يو له بل سره مشوره وکړئ، وروسته يې په کړکي قلم مشق او تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ مشق په پنسل او يا خودکار قلم د کرسي خط پر مخ مشق او تمرين کړئ.

**اووم لوست**

## د (ط) توری

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د (ط) توري د لیکلو له حرکتونو او خطاطی سره آشنا شي.

**پوښتني**

څه فکر کوئ د (ط) توری په څو حرکتونو کې د کږکي قلم په واسطه خطاطي شوی دی؟

ستاسو په نظر د (ط) توری له کومې نقطې پیل او په څو حرکتونو کې خطاطي کیږي؟




**فعالیت**

د (ط) توري د حرکتونو په پام کې نیولو سره په کږکي قلم د کرسي خط له پاسه مشق او تمرین کړئ.

**کورنی دنده**

د (ط) توری په نستعلیق خط په پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچوکي تمرین کړئ.

**اتم لوست**


# د (ع) توری


**موخه:** د نستعلیق خط د قاعدې په پام کې نیولو سره د (ع) توري د خطاطی له بنې سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**

په نستعلیق خط مو کله د (ع) توری په کړکي قلم خطاطي کړی دی؟

ستاسو په نظر د (ع) توري د لیکلو حرکتونه په کړکي قلم له کومې نقطې څخه پیل کیږي؟



**فعالیت**

د (ع) توری په کړکي قلم د نستعلیق خط د قاعدو په پام کې نیولو سره د کرسي خط له پاسه مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پر پنسل او یا خودکار قلم پورتنی نمونه په خپلو کتابچو کې څو وارې مشق کړئ.

## نهم لوست


# د (ف) توری


**موخه:** په نستعلیق خط د کرسي خط پر مخ د (ف) توري له خطاطي سره دزده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د (ف) توری په خطاطی کې څو حرکتونه شتون لري؟

څه فکر کوئ د (ف) توری په څو طریقو خطاطي کیږي؟



**فعالیت**

د (ف) توري او د هغه دخطاطۍ د څرنگوالي په اړوند فکر وکړئ، وروسته هغه په نستعلیق خط د کرسي خط له پاسه په کړکي قلم مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

د (ف) توری پر پنسل او یا خودکار قلم له پورتنۍ نمونې سره سم په نستعلیق خط مشق او تمرین کړئ.


**لسم لوست**


## د (ق) توری

**موخه:** د کرسي خط پر مخ په نستعليق خط د (ق) توري له خطاطۍ او د کړکي قلم له حرکتونو سره د زده کوونکو بلدتيا.

**پوښتنه**

څه فکر کوئ د (ق) توري خطاطي له کومې نقطې پيل کيږي؟



**فعاليت**

د (ق) توري د خطاطي په اړوند په خپلو کې بحث وکړئ، وروسته پورتنی مشق په خپلو کې تمرين کړئ.

**کورنی دنده**

د (ق) توری پر پنسل او يا خودکار قلم د کرسي خط له پاسه په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

## يوولسم لوست

# د (ک او گ) توري

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په کړکي قلم د (ک او گ) تورو له خطاطۍ سره بلد شي.

**پوښتنې**

کله مو پر کړکي قلم په نستعليق خط د (ک) توری خطاطي کړی دی؟

ستا سو په نظر د (ک) توري په خطاطي کې له کومو وسايلو څخه استفاده کيږي؟




**فعاليت**



د (ک او گ) تورو او د هغو د ليکلو پر بڼې يو له بل سره بحث وکړئ، وروسته يې په کړکي قلم د کرسي خط له پاسه پر نستعليق خط مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

په خپلو کتابچو کې د (ک،گ) توري پر پنسل او يا خودکار قلم مشق کړئ.


## دولسم لوست


# د (ل) توری

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په نستعليق خط او کړکي قلم له خطاطي سره بلدتيا پيدا کړي.

**پوښتني**

ستاسو په نظر د (ل) توری په څو حرکتونو کې خطاطي کېږي؟
کله مو د (ل) توری په کړکي قلم او نستعليق خط د کرسي خط له پاسه خطاطي کړی دی؟



**فعاليت**

د (ل) توري د حرکتونو د ليکلو پر بنې يو له بل سره مشوره وکړئ، بيايې په کړکي قلم پر نستعليق خط د کرسي خط له پاسه مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

د (ل) توری په خودکار قلم او يا پنسل دکرسي خط له پاسه تمرين کړئ.

**دیارلسم لوست**


# د (م) توری

**موخه:** زده کوونکي به په کړکي قلم د (م) توری خطاطي او حرکتونه د نستعلیق خط پر قاعدې د کرسي خط له پاسه زده کړي.


**پوښتنې**

لاندې شکل ته په ژورې پاملرنې سره وګورئ او ووایئ چې د (م) توری د کرسي خط په کومه برخه کې دی؟

ستاسو په نظر د (م) توری په څو حرکتونو کې خطاطي شوی دی؟




**فعالیت**



د (م) توري د حرکتونو او د هغه د خطاطي په اړوند یو له بل سره مشوره وکړئ، وروسته بیا پورتنی شکل په کړکي قلم تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتني شکلونه د پنسل یا خودکار قلم په واسطه د کرسي خط پر مخ په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.


## څوارلسم لوست

# د (ن) توری

**موخه:** زده کوونکي به د (ن) توري له خطاطئ او د ليکلو له حرکتونو سره د کرسي خط له پاسه د نستعليق خط له قاعدې سره سم بلدتيا پيدا کړي.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ د (ن) توری د کرسي خط په کومه برخه کې پروت دی؟
ستا سو په نظر د (ن) توری په څو حرکتونو کې خطاطي شوی دی؟




**فعالیت**



د (ن) توري د ليکلو له حرکتونو او خطاطي د بنې په اړوند يو له بل سره مشوره وکړئ، وروسته بيا پورتنی مشق په نستعليق خط په خپلو کتابچو کې تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

د (ن) توری پر پنسل او يا خودکار قلم د کرسي خط له پاسه په کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.


## پنځلسم لوست

# د (و) توری


**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په کړکي قلم د (و) توري پر خطاطی او د قلم په حرکتونو وپوهيږي.

**پوښتنې**

کله مو د (و) توری د کرسي خط له پاسه پر نستعليق خط خطاطي کړی دی؟
څه فکر کوئ د (و) توری د کرسي خط په کومه برخه کې دی؟




**فعاليت**



په نستعليق خط د (و) توري د ليکلو د حرکتونو او پر کړکي قلم د خطاطی په اړوند په خپل منځ کې بحث وکړي، وروسته يې ځو واري په کتابچو کې وليکئ.

**کورنی دنده**

پر پنسل او يا خودکار قلم د(و) توری په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.


## شپاړسم لوست


# د (هـ) توری

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط د (ه) توري له حرکتونو او خطاطۍ سره بلد شي.

**پوښتنې**

کله مو د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د (ه) توری خطاطي کړی دی؟
ستاسو په نظر د (ه) توری پر څو طریقو او څه ډول خطاطي کیږي؟





**فعالیت**

د "هـ" توري د خطاطۍ او حرکتونو په اړوند بحث وکړئ، وروسته یې په کړکي قلم مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

په خودکار قلمونو او یا پنسل قلمونو د (ه او هـ) توري په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## اوولسم لوست


# د (ی) توری

**موخه:** زده کوونکي به پر نستعلیق خط د کرسي خط له پاسه د (ی) توري له خطاطۍ او حرکتونو سره آشنا شي

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د (ی) توری په څو ډوله خطاطي کیږي؟

څه فکر کوئ چې (ی) د الفبا تورو څووم توری دی؟






**فعالیت**

د (ی) توري د لیکلو حرکتونه په پام کې ونیسئ، وروسته یې پر نستعلیق خط په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

د (ی)توری د کرسي خط له پاسه څو وارې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.



# دویم څپرکی

## د نستعلیق خط پر قاعده د څو توریزو کلمو د خطاطي بڼه


### اتلسم لوست


**آدم**

**موخه:** د کرسي خط پر مخ په نستعلیق خط د (آدم) د کلمې له خطاطۍ او حرکتونو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ چې مد د کومو تورو له پاسه لیکل کیږي او له څو حرکتونو څخه جوړ شوی دی؟





**فعالیت**

د کرسي خط له پاسه د پورتني سر خط له مخې د تورو د حرکتونو په پام کې نیولو سره د آدم کلمه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

د آدم کلمه پر پنسل او یا خودکار قلم سره په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.


**نو لسم لوست**

## ادب

**موخه:** د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کږکي قلم د (ادب) کلمې د تورو له حرکتونو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**

کله مو د (ادب) کلمه په کږکي قلم د حروفو له حرکتونو سره خطاطي کړې ده؟
څه فکر کوئ چې د (ادب) کلمه د کرسي خط په کومه برخه کې ده؟





**فعالیت**

د (ادب) کلمه له ټولو اساساتو سره څو وارې ولیکئ، بیا یې په کږکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنی مشق په خودکار او پنسل قلم څو وارې په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.


## شلم لوست


### بڼ

**موخه:** د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط او کړکي قلم د (بڼ) د کلمې له خطاطي او حرکتونو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ چې د (بڼ) کلمه له څو تورو څخه ترکیب شوې ده؟
د بڼ کلمې کوم توري د کرسي خط له پاسه خطاطي شوي دي؟





**فعالیت**

پورتنی نمونه د هغه د حرکتونو په پام کې نیولو سره په کړکي قلم د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پر پنسل او یا خودکار قلم د بڼ کلمه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## یوویشتم لوست

# جاج

**موخه:** د کرسي خط پر مخ په نستعلیق خط د (جاج) کلمې له خطاطي او حرکتونو سره به زده کوونکي بلدتیا پیدا کړي.

**پوښتنه**

ستاسو په نظر د جاج کلمه له څو تورو جوړه شوې ده؟





**فعالیت**

په خپلو ډلو کې د (جاج) کلمې د حرکتونو په اړوند بحث وکړئ، وروسته یې پر کړکې قلم د کرسي خط له پاسه تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

دکرسي خط پر مخ د جاج کلمه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.


## دوه ويشتم لوست


# درمل

**موخه:** زده کوونکي به دکرسي خط له پاسه په نستعليق خط او کړکي قلم د (درمل) کلمې د تورو له حرکتونو سره بلدتيا پيدا کړي.

**پوښتنه**

څه فکر کوئ چې د درمل کلمه د کرسي خط په کومه برخه کې ليکل کيږي؟



**فعاليت**

د ښوونکي په مرسته پورتنی مشق د هغه د تورو د ليکلو د حرکتونو په پام کې نيولو سره په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

د درمل کلمه پر پنسل او يا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

## درویشتم لوست

# رښتیا

**موخه:** د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د (رښتیا) کلمې له خطاطي او د لیکلو له حرکتونو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د (رښتیا) کلمه په څو طریقو خطاطي کېږي؟

آیا د رښتیا کلمې د لیکلو د حرکتونو په اړوند په څه پوهیږئ؟






**فعالیت**

د رښتیا کلمې د حرکتونو په اړوند بحث وکړئ، وروسته یې په کړکي قلم د کرسي خط له پاسه مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنی نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

## څلر ویشتم لوست

# ستوری

**موخه:** د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کړکي قلم د ستوري کلمې د خطاطۍ له بنې سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنه**

کله مو د ستوري کلمه پر کړکي قلم او نستعلیق خط خطاطي کړې ده؟






**فعالیت**

د ستوري کلمې د لیکلو د حرکتونو او خطاطي په اړه مشوره وکړئ، وروسته یې په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنی نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم د کرسي خط له پاسه مشق او تمرین کړئ.


## پنځه ویشتم لوست

# صلح

**موخه:** زده کوونکي به دکرسي خط له پاسه پر کړکي قلم د (صلح) د کلمې له خطاطي او حرکتونو سره بلد شي

**پوښتنې**

ستاسو په آند د صلح کلمه د کرسي خط په کومو بر خو کې موقعیت لري؟
کله مو د کرسي خط له پاسه پر کړکي قلم د صلح کلمه خطاطي کړې ده؟



**فعالیت**



په خپلو ډلو کې د هغو کلمو په اړوند چې لومړی توری یې (ها) او یا (ص) وي، فکر وکړئ، وروسته یې پر کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

د کرسي خط له پاسه د صلح کلمه پر پنسل او یا خودکار قلم مشق او تمرین کړئ.

## شپږویشتم لوست


# طاووس

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط د (طاووس) کلمې پر خطاطي او حرکتونو وپوهیږي.

**پوښتنې**

ستاسو په آند د (طاووس) کلمه د کړکي قلم په څو حرکتو نو کې خطاطي کیږي؟
څه فکر کوئ د (طاووس) کلمې توري د کرسي خط په کومه برخه کې دی؟



**فعالیت**

په عملي توگه د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کړکي قلم د (طاووس) کلمې د تورو حرکتونه مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه څو وارې پر پنسل او یا خودکار قلم مشق او تمرین کړئ.


## او ویشتم لوست

# عالم

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ په نستعليق خط د (عالم) کلمې له خطاطۍ سره بلد شي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د (عالم) کلمه د کرسي خط پر مخ په څو حرکتونو کې خطاطي کيږي؟
کله مو د (عالم) کلمه د کرسي خط پر مخ پر نستعليق خط او کړکي قلم خطاطي کړې ده؟





**فعالیت**

له پورتنۍ نمونې سره سم د (عالم) کلمه د کرسي خط پر مخ او نستعليق خط پر کړکي قلم مشق او تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم څو واري په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

## اته ویشتم لوست


# فصل

**موخه:** د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د (فصل) کلمې له خطاطۍ او حرکتونو سره د زده کوونکو بلدتیا.


**پوښتنې**

کله مو د کرسي خط له په پاسه پر کړکي قلم د (فصل) کلمې حرکتونه تمرین کړي دي؟

فصل د کلمې په خطاطۍ کې د نستعلیق خط له قاعدې سره سم څو حرکتونه لیدل کیږي؟



**فعالیت**



د (فصل) د کلمې په اړه په خپل منځ کې بحث وکړئ، وروسته یې بیا د کرسي خط پر مخ په نستعلیق خط تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

د کرسي خط له پاسه د (فصل) کلمه پر پنسل او یا خودکار قلم څو واري د کرسي خط له پاسه تمرین کړئ.


## نهه ویشتم لوست


# قانون

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د قانون کلمې له خطاطۍ او حرکتونو سره بلد شي.

**پوښتنه**

کله مو د قانون کلمه د کرسي خط له پاسه په حرکت لرونکي توګه خطاطي کړې ده؟





**فعالیت**

د قانون کلمې د خطاطۍ او د هغې د تورو د حرکتونو په اړوند بحث وکړئ، وروسته یې هر یو پر کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

د قانون کلمه د کرسي خط له پاسه پر پنسل او یاخودکار قلم څو وارې مشق او تمرین کړئ.

## دیرشم لوست


# کتاب


**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط د (کتاب) د کلمې د خطاطۍ له بنې سره بلد شي.

**پوښتنې**

د څو دا سې کلمو نومونه واخلئ چې لومړی توری یې (ک) وي ؟

ستا سو په نظر د کتاب کلمې په خطاطۍ کې د کړکي قلم څو حرکتونه لیدل کیږي؟



**فعالیت**

د کتاب کلمې د حرکتونو په اړوند په خپل منځ کې بحث وکړئ، وروسته یې پر کړکي قلم د کرسي خط پر مخ تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

د کرسي خط له پاسه د کتاب کلمه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.

## يو ديرشم لوست

## لمن

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر کړکي قلم د (لمن) کلمې په حرکتونو وپوهيږي.

**پوښتنې**

په لاندينۍ کلمه کې د (ل) او (ن) تورو تر منځ کوم توری دی؟

څه فکر کوئ د (لمن) کلمه د کړکي قلم په څو حرکتونو کې خطاطي شوې ده؟






**فعاليت**

پر کړکي قلم د (لمن) د کلمې د خطاطۍ او د تورو د حرکتونو په اړوند په خپل منځ کې خبرې وکړئ، وروسته يې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او يا خودکار قلم د کرسي خط له پاسه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

## دوه دیرشم لوست

# مور

**موخه:** له زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه د نستعليق خط له اصولو سره سم د (مور) کلمې له خطاطي سره بلد تيا پیدا کړي.

**پوښتنې**

کله مو په کړکي قلم د کرسي خط له پاسه پر نستعليق خط د (مور) کلمه خطاطي کړې ده؟

ستاسو په نظر د (مور) د کلمې په ليکلو کې د کړکي قلم څو حرکتونه شتون لري؟





**فعاليت**

په کړکي قلم د مور د کلمې د ليکلو د حرکتونو په اړوند په خپل منځ کې مشوره وکړئ او بيا يې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

د مور کلمه پر پنسل او يا خودکار قلم د کرسي خط له پاسه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.


## درېیم لوست

# نارنج


**موخه**:زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر کړکي قلم د (نارنج) کلمې پر خطاطی او د حروفو د لیکلو په حرکتونو وپوهیږي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د نارنج کلمې په خطاطۍ کې څو حرکتونه شتون لري؟
د نستعلیق خط د قاعدې په اړه څه ویلای شئ؟



**فعالیت**



د نارنج کلمې د تورو د حرکتونو او خطاطي د بنې په اړوند په خپل منځ کې بحث وکړئ، وروسته یې پر کړکي قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر کړکي قلم د کرسي خط له پاسه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## ځلور دیرشم لوست


# واده

**موخه:** د کرسي خط له پاسه په کږکي قلم د (واده) کلمې له حرکتونو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ د (واده) په کلمې کې د کږکي قلم څو حرکتونه شتون لري؟
آیا کله مو د کرسي خط له پاسه د (واده) کلمه خطاطي کړې ده؟



**فعالیت**

د واده کلمې د خطاطۍ او تورو د لیکلو او حرکتونو په اړوند په خپل منځ کې بحث وکړئ، وروسته پورتنۍ نمونه په کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**


پورتنۍ نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئد.

## پنځه دیرشم لوست

# هنر

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په کړکي قلم د(هنر) د کلمې د حروفو په خطاطي او حرکتونو وپوهیږي.

**پوښتنه**
ستاسو په نظر په کړکي قلم د (هنر) کلمې د حروفو حرکتونه د کرسي خط پر کومه برخه خطاطي کیږي؟



**فعالیت**



په کړکي قلم د هنر کلمې د حروفو د لیکلو د حرکتونو په اړوند په خپل منځ کې بحث وکړئ، وروسته پورتنی نمونه په کړکي قلم مشق کړئ.


**کورنۍ دنده**
پر خودکار او یا پنسل قلمونو پورتنی نمونه په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

## شپږدېرشم لوست

# یاسمین

**موخه:** زده کوونکي به د (یاسمن) کلمې له حرکتونو سره د کړکي قلم په واسطه د کرسي خط له پاسه آشنا شي.

**پوښتنه**
کله مو د یاسمن کلمه په کش دار ډول په کړکي قلم خطاطي کړې ده؟





**فعالیت**
د (یاسمن) کلمې د تورو د لیکلو د حرکتونو په پام کې نیولو سره یې په کړکي قلم د کرسي خط له پاسه مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**
پورتنۍ نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم د کرسي خط له پاسه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.



# دریم څپرکی

## پر نستعلیق خط د لنډو جملو خطاطي

### اوه دیرشم لوست

### آدم

**موخه:** دکرسي خط له پاسه د (بني آدم) د ترکیبي کلمې له خطاطی سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ چې مد د کومو تورو له پاسه لیکل کیږي؟

ووایئ چې په لاندې جمله کې کوم توري د کرسي خط له پاسه او کوم توري لاندې راغلي دي؟

بني آدم د لوی خدای (جل جلاله) اشرف مخلوق دی.



**فعالیت**

پورتنۍ جمله په کږکي قلم د کرسي خط له پاسه د حرکتونو په پام کې نیولو سره په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

د بنی آدم ترکیبي کلمه په کږکي قلم په نستعلیق خط پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## اته دیرشم لوست

# ادب

**موخه:** د کرسي خط پر مخ په کړکي قلم د (ادب) کلمې له حرکتونو او خطاطي سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ لاندې جمله له څو تورو څخه جوړه شوې ده؟
ستا سو په نظر د ادب کلمه د کرسي خط په کومه برخه کې لیکل کیږي؟

له لقمان حکیم چا پوښتنه: ادب دې له چا زده کړ
ځواب یې ورکړ: له بې ادبانو.



**فعالیت**

د ادب کلمه د خطاطی د قواعدو مطابق څو وارې تمرین کړئ، وروسته پورتنۍ جمله په کړکي قلم او نستعلیق خط په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

**کورنۍ دنده**

پر پنسل، خودکار او یا کړکي قلم د (ادب) کلمه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## نهه دیرشم لوست


# بڼ

**موخه:** د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د (بڼ) کلمې د لیکلو له حرکتونو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**

څوک ویلای شي چې لاندې جمله د کړکي قلم په څو حرکتونو کې خطاطي شوېده؟

ستاسو په نظر د (بڼ) کلمه له څو تورو جوړه شوې ده او توري يې د کرسي خط په کومه برخه کې دي؟





**فعالیت**

پورتنۍ جمله د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط په خپلو کتابچو کې پر کړکي قلم مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

په کړکي او یا خودکار قلمونو د (بڼ) کلمه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## څلوېښتم لوست

# جاج


**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ پر نستعليق خط د (جاج) د کلمې له اساساتو او خطاطی له بنې سره بلدتيا پيدا کړي.

**پوښتنې**

کله مو د جاج کلمه خطاطي کړې ده؟

ستاسو په نظر د (جاج) کلمې توري څه ډول خطاطي شويدي؟



**فعاليت**

په خپلو ډلوکې د جاج کلمې په اړوند خبرې وکړئ، وروسته پورتنی جمله د کرسي خط له پاسه په نستعليق خط مشق او تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

د جاج کلمې اړوند جمله پر خودکار او پنسل قلم په نستعليق خط په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

## يو څلويښتم لوست


# درمل

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ د ( درمل ) کلمې له خطاطۍ سره آشنا شي.

**پوښتني**

کله مو د کرسي خط په مخ پر نستعليق خط د (درمل) کلمه خطاطي کړې ده؟

د څو کلمو نو مونه واخلئ چې په سر کې يې د دال توری راغلی وي؟





**فعاليت**

پورتنۍ جمله د ښوونکي په مرسته په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق کړئ، د درمل کلمه څو واري مشق او تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

د درمل کلمه پر پنسل او يا خودکار قلم په نستعليق خط څو واري په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.


## دوه څلویښتم لوست


# رښتیا

**موخه:** زده کوونکي به د رښتیا کلمې اړوند جملې په کړکي قلم له خطاطۍ او حرکتونو سره بلد شي.

**پوښتنې**

کله مو د رښتیا کلمه په نستعلیق خط د کرسي خط له پاسه خطاطي کړې ده؟
ستاسو په نظر د رښتیا کلمې د لیکلو په مهال د کړکي قلم له څو حرکتونو څخه ګټه اخیستل شوې ده؟



**فعالیت**

په نستعلیق خط د لیکلي جملې په اړوند بحث وکړئ، وروسته پورتنۍ جمله په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ جمله پر پنسل او یا خودکار قلم سره څو وارې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.


# ستوری

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ په نستلعیق خط د (ستوري) له خطاطي او د تورو له حرکتونو سره بلد شي.

**پوښتني**

کله مو د (س) توری له دندانو پرته پر کش دار ډول پر کړکي قلم خطاطي کړی دی؟

ستا سو په آند د (س) توري د لیکلو په کش داره بڼه کې څو حرکتونه لیدل کیږي؟






**فعالیت**

د ستوري په کلمه کې د دندانو لرونکي اوکش دار (س) په اړوند فکر وکړئ، وروسته يې د کرسي خط له پاسه په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

**کورنۍ دنده**

پورتني نمونه د کرسي خط له پاسه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.

## څلور څلويښتم لوست

# صلح

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ د (صلح) کلمې د خطاطۍ له بنې سره بلدتيا پيدا کړي.

**پوښتنه**

کله مو د کرسي خط له پاسه په نستعليق خط په کړکي قلم د (صلح) کلمه خطاطي کړې ده؟






**فعاليت**

په خپلو ډلوکې د(صلح) د کلمې په اړوند بحث وکړئ، وروسته يوه بله کلمه چې لومړی توری يې (ص) وي په کړکي قلم مشق کړئ، هره ډله دې خپل کار خپلو ټولګيوالو ته ورښکاره کړي.

**کورنۍ دنده**

د (صلح) کلمې د اهميت په اړوند څه پوهيږئ، پر پنسل او خودکار قلم يې په خپلو کتابچو کې وليکئ

## پنځه ځلویښتم لوست


# طاووس

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه د (طاووس) کلمې له خطاطۍ سره آشنا شي.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ د (ط) توری له کوم توري وروسته راځي او څنګه خطاطي کیږي؟

څه فکر کوئ چې د طاووس کلمې توري د کرسي خط په کومه برخه کې دی؟






**فعالیت**

په عملي ډول د (طاووس) کلمه د نستعلیق خط د قواعدو له مخې پر کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

د طاووس کلمه په پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.


## شپږ څلويښتم لوست

### عالم

**موخه:** د کرسي خط له پاسه په نستعليق خط د (عالم) کلمې له خطاطي سره د زده کوونکو بلدتيا.

**پوښتنه**

کله مو د عالم کلمه د کرسي خط له پاسه په نستعليق خط په کړکي قلم سره خطاطي کړې ده؟






**فعاليت**

پورتنۍ جمله په کړکي قلم په نستعليق خط د کرسي خط له پاسه په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه په پنسل او يا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

## اوه څلویښتم لوست

# فصل

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په نستعليق خط د (فصل) کلمې له خطاطي سره بلد شي.

**پوښتني**

ستاسو په نظر د فصل کلمه د کرسي خط په کومه برخه کې ده؟

آیا کولای شئ د فصل د کلمې توري د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط خطاطي کړئ؟






**فعالیت**

د فصل کلمې اړوند جملې په هکله فکر وکړئ، وروسته یې څو واري په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ جمله پر کړکي قلم، پنسل او یا خودکار په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.


**اته څلویښتم لوست**


## قانون

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ د قانون کلمې له خطاطۍ سره آشنا شي.

**پوښتنې**

کله مو د قانون کلمه د کرسي خط له پاسه پر کړکي قلم او نستعلیق خط خطاطي کړېده؟



**فعالیت**

د قانون کلمې او د هغه د خطاطي په اړوند په خپل منځ کې بحث وکړئ، وروسته یې پر کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنی تمرین په خودکار قلم او یا پنسل د کرسي خط له پاسه په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

نه څلویښتم لوست

## کتاب

**موخه:** زده کوونکي به دکرسي خط له پاسه د کتاب دکلمې پر خطاطۍ وپوهیږي.

**پوښتنې**

څو کلمې ووایئ چې لومړی توری یې (ک) وي؟
ستاسو په آند پورتنۍ جمله څنګه خطاطي شوې ده او په کلموکې یې څو حرکتونه تر سترګو کیږي؟






**فعالیت**

په کړکي قلم د پورتنۍ جلمې د خطاطۍ په اړوند یو له بل سره مشوره وکړئ وروسته یې په کړکي قلم د کرسي خط له پاسه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم د کرسي خط له پاسه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## پنځوسم لوست

# لمن

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د لمن د کلمې له حرکتونو او خطاطي سره بلد شي.

**پوښتنې**

کله مو د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کړکي قلم د لمن کلمه خطاطي کړې ده؟

څه فکر کوئ په نستعلیق خط د لمن په کلمه کې د (ل) توري څو حرکتونه په پام کې نیول شوی دي؟






**فعالیت**

د لمن کلمې اړوند جمله د کرسي خط له پاسه په کړکي قلم او نستعلیق خط په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم د کرسي خط له پاسه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## یو پنځوسم لوست


# مور

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د (مور) د کلمې اړوند جملې د خطاطۍ پر لارو چارو وپوهیږي.

**پوښتنې**

کله مو د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کړکي قلم د (مور) کلمه خطاطي کړې ده؟

څه فکر کوئ په نستعلیق خط د(مور) کلمې په خطاطۍ څو حرکتونه په پام کې نیول شوي دي؟






**فعالیت**

د پورتنۍ جملې او د مور کلمې د خطاطۍ په اړوند په خپلو منځو کې بحث وکړئ، وروسته یې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر کړکي او یا خودکار قلمونو د کرسي خط له پاسه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.


## دوه پنځوسم لوست

# نارنج

**موخه:** زده کوونکي به دکرسي خط له پاسه پر کړکي قلم د نارنج د کلمې له خطاطۍ او د تورو د ليکلو له حرکتونو سره بلد شي.

**پوښتنې**

ستا سو په نظر پر کړکي قلم د نارنج کلمې په ليکلو کې څو حرکتونه ليدل کيږي؟
په لاندې جمله کې کوم توري د کرسي خط له پاسه او کوم توري لاندې راغلي دي؟




**فعاليت**



د نارنج کلمې د تورو د ليکلو، حرکتونو او خطاطۍ د بنې په اړوند په خپل منځ کې مشوره وکړئ، وروسته يې پر کړکي قلم او نستعليق خط د کرسي خط له پاسه مشق کړئ.

**كورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او يا خودكار قلم د كرسي خط له پاسه په خپلو كتابچو كې وليكئ.

## درې پنځوسم لوست

# وادی


**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه د واده کلمې د خطاطۍ له بڼې سره آشنا شي.

**پوښتنې**

څوک ویلای شي چې د (و) له توري مخکې او وروسته کوم توري دي؟
کله مو د واده کلمه د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط خطاطي کړې ده؟



**فعالیت**



دپورتنۍ جملې د خطاطۍ د بڼې په اړوند یو له بل سره بحث وکړئ، وروسته یې د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پر پنسل او یا خودکار قلم پورتنۍ نمونه په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.

## څلور پنځوسم لوست

# هنر


**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه د هنرد کلمې تورو په نستعليق خط له خطاطي کړي.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ د هنر کلمه له څو تورو څخه جوړه شوې ده؟

ستاسو په نظر د (ه) توری له نورو تورو سره څنګه خطاطي کيږي؟



**فعاليت**

د هنر د کلمې د اړوندې جملې د خطاطی او تورو حرکتونو په هکله بحث وکړئ، وروسته يې په کتابچو کې تمرين کړئ.

**کورنی دنده**

پر خودکار قلم او يا پنسل سره پورتنی نمونه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.


## پنځه پنځوسم لوست

# یاسمن

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه د یاسمن کلمې د خطاطی په بڼه وپوهیږي.

**پوښتنې**

کله مو د کرسي خط له پاسه په یوه جمله کې د یاسمن کلمه خطاطي کړې ده؟
څه فکر کوئ د (ی) توری څو ډوله دی او څنګه خطاطي کیږي؟






**فعالیت**

په نستعلیق خط هغه جمله چې یاسمن کلمه پکې ذکر شوې ده پر کړکي قلم خطاطي کړئ، هڅه وکړئ چې د کتاب د نمونې په څېرې ښکلي خطاطي کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه د کرسي خط له پاسه په خپلو کتابچو کې څو وارې تمرین کړئ.

## دویمه برخه
## د حسن خط د تدریس لارښود

### لومړی لوست

### ۱ مخ

د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه) لومړی ساعت

| | | |
|---|---|---|
| د لوست سر لیک | آ | |
| عمومي موخې | د (آ) توري د خطاطي له بنې سره دزده کوونکو بلدتیا | |
| د زده کړې موخې<br>- پوهنیزې<br>- مهارتي<br>- ذهنیتي | له زده کوونکو هیله کیږي چې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>- د (آ) توری شکلی ولیکي د نستعلیق خط له اصولو سره سم پرې پوه شي.<br>- د (آب) کلمه د کرسي خط پر مخ پر نستعلیق خط خطاطی کړای شي.<br>- پر نستعلیق خط او د کړکي قلم (ه) توري له خطاطی سره علاقمند شي. | |
| د تدریس لارښود | ځانګړې او ډله ییز فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه | |
| دتدریس وسایل | کتاب، کتابچه، کړکي قلم، پنسل، پنسل پاک، تباشیر، مشواني، خط کش، قط زن | |
| د ارزونې لاره | د لوست د پیاوړتیا په موخه له زده کوونکو څخه څو پوښتنې وکړئ. | |
| لومړني فعالیتونه | سلام ورکول، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضری اخیستل، د نوي کال مبارکي او د دریم ټولګي د حسن خط لوست یادونه. | ۵ دقیقې |
| | انګیزوي پوښتنې<br>کله مو د کرسي خط پرمخ پر نستعلیق خط او کړکي قلم خطاطي کړې ده؟ | ۵ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | وخت |
| --- | --- |
| د لوست په اړوند له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړئ.<br>• دکرسي خط له پاسه پر نستعليق خط د(آ) توري د خطاطي په اړوند زده کوونکو ته لارښوونه وکړئ.<br>• پر نستعليق خط د (آ) توري د ښکلو ليکلو طريقه پر کړکي قلم زده کوونکو ته ور وښيئ.<br>• د ډله ييز کار څارنه وکړئ او د هغوی مشقونه اصلاح کړئ.<br>دزياتې هڅونې په موخه د هغوی ډله ييز کارونه نندارې ته وړاندې کړئ. | ۳۵ دقيقې |

**کورنۍ دنده**

د اوبو کلمه پر نستعليق خط او کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق اوتمرين کړئ.

**اضافي معلومات**

ښاغلی ښوونکی: مشق او تمرين درې پړاوونه لري: قلمي، نظري، ذهني

۱:- قلمي: د نمونې له مخې د کړکي قلم او تورو په واسطه د بيلا بيلو کلمو او تورو نقل کول او تمرين دی.

۲:- نظري: د ښوونکي خطونو، تورو، کلماتو او حرکاتو ته په پاملرنې چې په کتلو سره تر سره کيږي او د زده کوونکو پر ذهن اغيزه کوي.

۳:- ذهني: هغه دی چې زده کوونکي د اصولو او قواعدو په پوهېدو سره له ښوونکي پرته له خپل ذهن څخه مشق او تمرين وکړي، له خپلې مينې سره سم عبارتونه ليکي چې څنګه خطي قوه و ارزوي.

زده کوونکو ته يې زده کړه اړينه ده، د ښوونکي تورو او کلماتو ته په پاملرنې سره يې بايد تمرين کړي. زده کوونکي دې حرکتونه او د هغې ګردش په پام کې ونيسي، په صبر او حوصلې سره دې په خپلو حدودو کې تمرين وکړئ يوه موده دې له نمونې پرته له ځانه وليکي، اوس ورباندې بلدتيا پيدا کوي چې د مشق قلم ښه غوره کړي او له نيمګړو سر مشقونو څخه دې پيروي نه کوي او څومره چې امکان لري، بايد ناقصو خطونو ته پاملرنه ونه کړي. کله چې زده کوونکو يوه اندازه بلدتيا پيدا کړه، کله کله له خپل ذهن څخه توري او کلمات وليکي، هغه وخت دې له نمونې سره پرتله کړي او ښوونکي دې يې وګوري.

ښه خبره ده چې زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونو څخه سر غړونه ونه کړی او لارښوونو ته يې پاملرنه وکړي، هر وخت پاکي او نظافت په پام کې ونيسي. د خطاطي وسايل منظم اوپاک وساتي، په ليکلو کې مبالغه او په خطاطۍ کې بيړه ونه کړي.

## پنځه ویشتم لوست

### ۲۴ مخ

**د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه)** **لومړی ساعت**

| | | |
|---|---|---|
| د لوست سر لیک | درمل | |
| عمومي موخې | زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه د کړکي په قلم د درمل کلمې له لیکلو سره بلد شي. | |
| د زده کړې موخې<br>- پوهنیزې<br>- مهارتي<br>- ذهنیتي | له زده کوونکو هیله کیږي چې د لوست په پای کې لاندې موخې تر لاسه کړي.<br>- زده کوونکي د درمل کلمې په خطاطي کولو د هغې په حرکتونو وپوهیږي.<br>- زده کوونکي به په کړکي قلم د درمل کلمه په نستعلیق خط ولیکلای شي.<br>- په نستعلیق خط به په کړکي قلم د درمل کلمې له خطاطۍ سره مینه پیدا کړي. | |
| د تدریس لارښود | ډله ییز او ځانګړي فعالیتونه، پوښتنې، ځوابونه او عملي کارونه | |
| دتدریس وسایل | کتاب، کتابچه، کړکي قلم، پنسل، پنسل پاک، تباشیر، مشوانۍ، خط کش، قط زن | |
| د ارزونې لاره | دلوست د تحکیم په موخه له زده کوونکو څخه لوست په اړوند څو پوښتنې | |
| لومړني فعالیتونه | سلام ورکول، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل، دتېر لوست یادونه او له نوي لوست سره ارتباط ورکول. | ۵ دقیقې |
| | انګیزوي پوښتنې: کله مو د کرسي خط له پاسه په کړکي قلم د درمل کلمه خطاطي کړیده؟ | ۵ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | وخت |
| --- | --- |
| • د درمل کلمه د کرسي خط له پاسه د کتاب له مخې پر تخته ولیکئ زده کوونکو ته لارښوونه وکړئ.<br>• پورتنۍ کلمه د کړکي په قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.<br>• د دوی د کار څارنه وکړئ او مشق یې ورته اصلاح کړئ.<br>• په کرسي خط د دانا کلمې د خطاطۍ طریقه ورته توضیح کړئ. | ۳۵ دقیقې |

**کورنۍ دنده**

کرسي خط ته په پاملرنې د درمل کلمه په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ

**اضافي معلومات**

د ښکلې خط لیکلو پړاوونه:

مشق او تمرین دې پړاوونه لري: قلمی، نظری او ذهني

- قلمی: په کړکي قلم د نمونوي کلمو د نورو نقل کول او تمرین وي.

- د استاد له خوا دې لیکلو کلمو توروته (روژه پاملرنه)، تاویدل او حرکتونه په پام کې ونیول شي. دا کار لیکلو کلمو ته په کتلو تر سره کیږي او د زده کوونکو پر ذهن اغیزه لوکې.

- ذهنی هغه دي چې مشق یا تمرین کوونکی پر قاعدو او قوانینو وپوهیږي، پرته له تقلید څخه هغه له خپل فکر په مینه ولیکي. تر چې خپل خطي یا مشقی معلوم کړي. زده کوونکو ته زده کړه اړینه ده. د ښوونکي نمونې ته ژوره پاملرنه په کارده. د مشق په وخت حرکتونه باید په پام کې ونیول شي، چټل او نا صاف ونه لیکل شي، باید په ډیر صبر او حوصلې کلمې تکرار تکرار ولیکي تر یوې مودې دې پرته له نمونې څخه څه نه لیکي. تل دې ښوونکي د لیکلو له طریقې څخه پیروي وکړئ، چې د ښوونکي د لیکلو او د مشق لارې چارې زده کړئ. په دې کار کې بلدتیا پیدا کړئ. د مشق د قلم څوکه د خط پنډوالي سره سمه جوړه کړئ او د نمونې له پاسه له لیکلو ډډه وکړئ. وروسته له هغه چې ستا سو خط ښه شي، بیا کله کله له خپل ذهن څخه کلمې ولیکئ.

بیا یې د استاد له نمونې سره پر تله کړئ یا یې ښوونکي ته ورښکاره کړئ.

ډیره ښه خبره داده چې زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونو سر غړونو ونه کړي.

لارښوونوته یې پاملرنه وکړي، هر وخت پاکۍ او نظافت ته پاملرنه وکړي.

د ښکلو لیکلو وسایل باید پاک وساتئ ډیر ځایونه مه ستومانه کوئ، په لیکلو کې تلوار مه کوئ.

## پنځه دېرشم لوست

# ۳۷ مخ

**د تدریس وخت (دوه درسی ساعتونه)** **لومړی ساعت**

| | | |
|---|---|---|
| د لوست سر لیک | هنر | |
| عمومي موخې | زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ د هنر کلمې پر خطاطۍ وپوهیږي. | |
| د زده کړې موخې<br>- پوهنیزې<br>- مهارتي<br>- ذهنیتي | له زده کوونکو څخه هیله کیږي چې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>- زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ د هنر کلمې له حرکتونو، د خطاطۍ له بڼې او ښکلو لیکلو سره بلدشي.<br>- د کرسي خط پر مخ به پر نستعلیق خط د هنر کلمې خطاطي وکړای شي.<br>- په کړکي قلم له نستعلیق خط، لیکلو او تمرین سره مینه پیدا کړي. | |
| د تدریس لارښود | ځانګړي او ډله ییز فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه | |
| دتدریس وسایل | کتاب، کتابچه، کړکي قلم، پنسل، پنسل پاک، تباشیر، مشوانۍ، خط کش، قط زن | |
| د ارزونې لاره | د لوست د پیاوړتیا په موخه له زده کوونکو څخه څو پوښتنې وکړئ. | |
| لومړني فعالیتونه | سلام ورکول، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل، دتېر لوست یادونه او له نوې لوست سره د هغه ارتباط ورکول | ۵ دقیقې |
| | انګیزه وي پوښتنې<br>کله مو د کرسي خط پرمخ پر نستعلیق خط او کړکي قلم د هنر کلمه خطاطي کړې ده؟ | ۵ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | وخت |
| --- | --- |
| زده کوونکو ته د (ه) توري د ټکو ایښودلو په اړوند لارښوونه وکړئ.<br>• د کرسي خط له پاسه د هنر کلمې د خطاطۍ په اړوند زده کوونکو ته لارښوونه وکړئ.<br>• پر کږکي قلم او نستعلیق خط دهنر کلمې د خطاطۍ په اړوند زده کوونکو لارښوونه وکړئ.<br>• د زده کوونکو چارې وڅارئ او هغه ورته اصلاح کړئ.<br>• د ارزونې لپاره یې تر سره شوي کارونه راټول کړئ. | ۳۵ دقیقې |

**کورنۍ دنده**

د اتلسم لوست له مخې د هنر کلمه د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط مشق او تمرین کړئ.

**اضافي معلومات**

څنګه چې پوهیږو چې ټول اسلامی خطونه یوه ریښه لري او هغه ریښه الفبا ده چې له طبیعت او هندسي شکلونو څخه اخیستل شوي دي، په بیلا بیلو ټولنو کې بیل بیل خطونه دي، له دې امله کولای شو چې د یوې قاعدې لاندې یې توضیح او وڅېړو او د الفبا د تورو د ټکو ایښودل هم د اسلامي خطونو یوه قاعده ده چې په ټاکلې اندازه، د تورو په حرکتونو کې په پام کې نیول کیږي، د بیلګې په ډول: په اتلسم لوست کې د هنر په کلمه کې په ځانګړې ډول د (ه) توري په خطاطۍ کې دا طریقه په پام کې نیول شوېده.


له دې امله د دې کتاب ټول لوستونه په ځانګړي ډول د الفبا مفرد توري پر نستعلیق او کږکي قلم خطاطي او حرکتونه یې په پام کې نیول شوي دي چې د نستعلیق خط ښکلا یې زیاته کړې ده.

**د نستعلیق خط پیدایښت:** نستعلیق خط له دوو عربي کلیمو (نسخ) او (تعلیق)عربي (نسخ) و (تعلیق) مرکبه ده چې د فارسي لیکنې د خط پر نوم یادیږي.


نسخ: د باطل او راګر ځول شوي په معنا دی، هم د یو ډول خط نوم دې چې پر هغې کتابونه لیکي، دا خط د څو نورو خطونو لکه: محقق، ریحان، ثلث او تقیع زیږوونکي دی.

تعلیق: د یوه شي پر بل دځوړندیدو او یاهم پر یوه کتاب باندې د یادداشتونو او لیکونو په معنا او مفهوم د دی او هم د یو ډول خط نوم دی چې له دوو او اسلامي خطونو (راع او توقیع) څخه راوتلی دی.

**د خط تعریف او اهمیت**: خط د لغوي معنا له مخې پر قلم لیکلو ته وایي، په صنعت او د قلم د خاوندانو په عقیده خط په ترکیبونو او جملو کې د تورو سم لیکل، همدا رنګه په ځانګړي ډول د تورو ښکلي او سمو لیکلو ته ویل کیږي. په بل عبارت خط د لاس ژبه ده، د زړه سیفر او د اما نتونو او آثارو ساتونکی دی.
د خط فن (علم له پلوه صفت او هنر دی) چې د ښوونې او روزنې په پروسه کې زده کیږي.
د خط او اهمیت په اړوند باید یادونه وکړو، که چیرې خط نه وای، پخوانیو آثارو به هم په نړۍ کې شتون نه درلود.
**د ښکلي خط لیکنې وسایل:** د نورو هنرونو په شان د خطاطي لپاره هم ځانګړو وسایلوته اړتیا ده، تر څو چې اړین وسایل نه وي، د پرمختګ هیله یې هم نه شي کیدای، د ښو وسایلو درلودل له یوه ښوونکي کم نه وي، په هر صورت ځینو وسایلو، لکه: قلم، قلم تراش، قط زن، مشوانۍ، مقطرې او به، رومي تیره، خاک بیزه، وریښمینه ټوټه، کاغذ، ټول دښکلي لیک د لیکلو وسایل دي چې په پخوانیو زمانو کې له دې هر یوه څخه کار اخیستل کیده، نن ورځ د دې ټولو اړتیا نشته، بیا هم ټول تشریح کوو، تر څو زده کوونکي له هغه سره آشنا یي پیدا کړي.
**۱:- کړکي قلم**
د کړکي قلم دښې او ښکلي لیکنې ډیره ښه وسیله ده، قلم د قطع په معنا دی، څنګه چې تراشل شوی دی، باید د هغې په تراشلو کې پاملرنه وشي، هر څوک چې دکړکي قلم ښه تراش کړي، نو د خط لیکل ورته آسانیږي.
دقلم د تراشلو په اړوند بایدڅلورو ټکو ته پاملرنه وشي.
الف:- فتح (د کړکي قلم دمخ لرې کول).
ب:- نحت (دکړکي قلم د څنګ تراشل).
ج:- فاق (د کړکي قلم سور یې کول).
د:- د کړکي قلم د سر پرې کول.
که چیرې د کړکي د ځینو قلمونو څټ لږ نازک شي، که څه هم دا دپنډو کړکو ځانګړتیا ده، که دې ته پاملرنه وکړو، نو ټول پنځه ټکي کیږي.
الف:- فتح: د کړکي قلم د میدان لپاره د قلم تراشل دي قلم تراش ته مساوي فشار ورکړو، تر څو چې د قلم سر ننوزي، تر څو د کړکي قلم میدان د قلم د قطر په اندازه شي د قلم میدانی باید ډیر لوړ نه وي،ځکه چې د لاس قدرت کموي او قلم ژر ماتیږي او نه هم ډیر لنډ وي چې د کاغذ پر مخ د زیات مرکب درمل او خط خراب کړي.




**ب:-** د قلم د ځنګ په تراشلو کې دا رمز دی چې د قلم دوه څنګونه نسبت د قلم سر ته مساوي وي.




**ج:- شق:** د کړکي قلم د سختوالي او سستوالي په اړوند یې باید منځنی حالت غوره شي، دا سې منځنی حالت اړین دی چې نه سخت او نه هم سست او د قلم د میدان په نمیایي کې د (۲/۳) فاق وهل شي، که زیات شي د قلم که دوه ځایه کیږي او خط خرابوي، په سختو قلمونو کې فاق د قلم د میدان په کچه وي، په سستو قلمو نو کې (۱/۳) او (۱/۲) کچه ټاکل شوې ده، د قلم فاق باید د قلم په منځنۍ برخه کې پروت دي، تر څو چې دوې ژبې یې جوړې شي.

(واحشي او انسی): ښي بلو ژبې ته یې وحشي او کیڼې خواته یې انسي وایي، د قلم ښي خوا ژبې او نېش ته یې وحشي او د قلم کیڼې خوا ژبې او نیش ته انسي ویل کیږي.





**د:- د کړکي قلم قط:** اصلي قط، قطع ده، د قلم سر د پلنوالي له خوا یې پر مخ قطع زن کیږدئ، تر څو چې صاف او له غیب پر ته پرې شي، هغه غږ چې د کړکي قلم له قطع کولو ځخه پورته کیږي باید یو ښه غږ وي.




هـ :- د کړکي قلم د څټ او یا شه پریکول: د قلم په څو که کې قلم تراش کیږدئ، او فشار ورکړئ چې په پوستکي کې ننوزي، وروسته ورو ورو قلم تراش ته د څو کې خواته حرکت ورکړئ، د کړکي قلم د شا پریکول د دې لپاره دی، چې د قلم څوکه له دواړو خواو یو شان وي. او ښه کار وکړي او هم د مرکب لپاره سم ځای وي، تر څو په یو وار د کاغذ پر مخ راکش نه شي، د غټ کړکي قلم د شا پریکولو اړین دي.



د قلم شاتوړل

**۲:- قلمتراش**

د دې لپاره چې کړکي قلم له اصولو سره سم و تراشل او یا جوړشي، دوو قلمتراشو ته اړتیا ده، یو د قلم د پلنوالي د کمولو لپاره چې باید محکم او اوپلن وي، تر څو چې د کړکي قلم پلنوالی هوار راشي، د کړکي قلم د څنګونو د خالي کولو لپاره چې نری وي، تر څو چې سر او ژبه یې نرۍ او د کوترې د لکۍ په شان وي، لکه چې ویلې یې دي: هغه څوک یې ښه لیکلای شي چې تیره او تېز قلم تراش ولري.




**۳:- قطع زن**


قطع زن باید صاف او سخت وي او هغې آلې ته ویل کیږي چې له کلک لرګي او یا هډو کي څخه جوړ شوی وي، لکه: آبنوس (یو ډول ونه ده چې لرګې یې کلک او سخت دي چې د کړکي قلم په قطع کولو او یا پرې کلو کې ور څخه ګټه اخیستل کیږي.



**٤:- مشوانۍ (لیقه او مرکب)**

د لیقه نوم هغه وخت ورته ویل کیږي چې پر مرکب ککړ او په مشوانۍ کې پروت وي. د مشوانۍ سر باید پرانیسی او د رګۍ وي.

لیقه له ځو پیچلو اوو ریښمینو تارونو څخه عبارت ده چې په مرکب کې واچول شي، ګټه یې داده چې په مشوانۍ کې د رنګ له توئیدو څخه مخنیوی کوي، کړکې قلم ته په خپله اندازه رنګ ورکوي لکه: چې مشوانۍ په فرهنګ پورې اړه لري، له دې امله یې په ساتنه باید کوښښ وشي.




**۵:- لړومی (الت بهم زدن):** هغه آله یا وسیله ده چې رنګ په دې لړل کیږي، یا رنګ ته پرې شور ورکول کیږي.
**٦:- مقطرې اوبه:** د رنګ په ترکیب کې د عادي اوبو پر ځای له مقطرو اوبو څخه ګټه اخیستل کیږي چې هغه د (بلو) په نوم هم یادوي.
**۷:- رومي تیره:** داسې تیره ده چې قلم تراش پرې تېز وي.
**۸:- خاورو چڼوونکی:** دململ یوه ټوټه ده چې خاورې پرې چڼول کیږي چې د البک پر نوم هم یادیږي، د اړتیا پر وخت له هغه څخه د کاغذ پر مخ د رنګ وچولو کار اخلي.
**۹:- دحریر ټوټه:** یوه نرمه و ریښمینه ټوټه چې د قلم د وچولو پر وخت ور څخه ګټه اخیستل کیږي.
**۱۰:- مسطر:** داسې یو چوکات دی چې په ټاکلی فاصله کې پکې ټاکلي رشته یې تارونه اچول کیږي، چې نن ورح ور څخه کار نه اخیستل کیږي او پر ځای یې له خط کش څخه ګټه اخیستل کیږي.
۱۱:- دکاغذ لاندې اچوونکی ټوټه: ټوټه یا مقوا چې د لیکلو پر وخت له کاغذ څخه لاندې کیږي.
**۱۲:- کاغذ:** سپین یا رنګه کاغذ، خو چې رنګ نشر نه کړي، هغه کاغذونه چې په خطاطی کې ور څخه ګټه اخیستل کیږي. لکه: شفاف د ترس کاغذونه، ډبل کاغذونه، (۲۰۰) ملي ګرامه سپین جلا لرونکي کاغذونه او نازک جلا دار کاغذونه دي.

## دښکلي خط ليکلو پړاوونه

د مشقي او ښکلي خط ليکل او تمرين درې پړاوه لري: قلمي، نظري او ذهني.

**۱:- قلمي:** د کړکي قلم په واسطه د کلمو نقل کول دي.

**۲:- نظري:** دښوونکي د تورو، کلمو او خطونو پر مخ دقلم کش کولو ته پاملرنه او دقت، همدا رنګه دهغې تاوول اوحرکات دي چې په ليدلو تر سره کيږي او د زده کوونکي په ذهن اغيزه کوي.

**۳:- ذهني:** هغې خطاطۍ ته ويل کيږي چې تمرين کوونکی د خط له اچولو سره آشنا او يو له بل سره د تورو يو ځای کول او له نمونې څخه له تقليد پرته له خپل ذهن، په مينه عبارتونه وليکي، تر څو د خپل خط د ښکلا کچه وارزوي.

زده کوونکو ته يې زده کول اړين دي چې دښوونکي لارښوونو تورو، کلمو ته پاملرنه وکړي. په پوره صبر او حوصلې سره دنمونې کچه او اندازه نقل اوتکرار کړي، يوازې له سر مشق پرته له ځانه څه ونه ليکي، په پر له پسې توګه دښوونکي لارښوونې په پام کې ونيسي. اړينه ده چې دمشق او تمرين د قلم څوکه د نمو نوي خط په اندازه جوړکړي، د هغو نمونو له پيروی څخه چې مسلکي نه وي، ډډه وکړئ.

وروسته له هغه چې خط يې قوت واخلي، له ځانه کلمې او عبارتونه وليکي، دښوونکي له خط او نمونو سره يې پر تله کړي، د ښوونکي نظر ته يې وړاندې کړي، ډېره پر زړه پورې ده چې زده کوونکي له متابعت څخه سر غړونه ونه کړی، د هغې لارښوونې په پام کې ونيسي، په ټولو حالاتو کې پاکۍ او نظافت ته پاملرنه وکړي. د خط وسايل پاک او په ترتيب سره يې ځای پر ځای کړي، په ليکلو کې ډيره مبالغه و نه کړي چې خپه او ستړي نه شي، او همدا رنګه دې په ليکلو کې تلوار ونه کړي.


## دخط عمومي ګټې

موږ پوهيږو چې ټول اسلامي خطونه له يوه اصل اخيستل شوي، اصل يې هغه الفبا ده چې له هندسي شکلونو او يا هغو شکلونو څخه چې په طبيعت کې شتون لري، اخيستل شوي يا د هغو خطونو تعقيب دی چې ډول ډول خطونه په بېلا بيلو ټولنو کې شتون لري، له دې امله يې ټول اسلامي خطونه له يوې ريښې او اصل څخه سرچينه اخلي، له دې امله ټول اسلامي خطونه څلور قاعدې لري او هره قاعده يې څو برخې لري، چې دلته يې مطالعه کوو.

۱:- اصول: چې يوولس برخې لري.

قوت – ضعف – سطح – دور – مجازي صعود – مجازي نزول – حقيقي صعود – حقيقي نزول – د سواد رعايتول، د دايرو او غوټو سپنوالی، د الفبا د ډلبندۍ ليږل

۲:- نسبت: څلور برخې لري.
په یو شکل مفرداتو کې یو ډول لیکل – مشابه مرکبات – د مفرداتو دمرکباتو او اندامو تناسب – اندازې اخیستل یاټاکلي نورمونه.
۳:- ترکیب: لس برخې لري.
په تورو او کلمو کې ترکیب، په کرښه او جمله کې ترکیب، دټولو مخونو په کرښو کې د ترکیب په پام کې نیول، څپرکو ته پاملرنه، د قلم سنجش، په مجاورت او نظم کې اعتدال، دمشوانۍ او دهغه د ځای په پام کې نیول، د مرکباتو په طریقو پوهېدل، د حرکاتو په پام کې نیول، د ګرامري ټکو او نښو ایښودلو ته پاملرنه.
٤:- کرسي: دوې برخې لري.
دپورتنۍ، منځنۍ اولاندینۍ کرسي په پام کې نیول (قرینه سازي)
یادونه: یوه بله برخه چې په دوو قاعدو (اصول، ترکیب) پورې اړه لري، د قلم د نیولو طریقه او دقلم د کش کولو او د مرکب په پام کې نیول.








**محترم ښوونکی: د هر لوست لپاره د دې پلان له لیکلوڅخه ډېره شوي ده، تاسې کولای شئ د ښوونکي لارښود له دې پلان څخه د دې کتاب په ټولو درسونو کې ګټه واخلئ.**
**یادونه: د دې کتاب هغه درسونه چې ډېر وخت نیسي، کولای شئ په درو ساعتونو تدریس کړئ.**